#کرونا_را_جدی_بگیریم
#کرونا_په_جدي_ګڼو
افغانستان ویروس کرونا را شکست میدهد!

## د رهبرۍ پیغام

**خیرپالو هیوادوالو!**

کرونا ناروغي جدي وګڼئ، د روغتیایي مرکزونو په لارښوونو عمل او د افغاني سرې میاشتې ټولنې د رضاکارانو او ګرځنده روغتیایي ټیمونو سره، چې شپه او روځ د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د هیواد والو په خدمت کې دي، همکار پاته شئ؛ ترڅو د کرونا ناروغی له خپراوي څخه مخنیوی وشي.






د افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اوصولو په رڼا کې د طبیعي او غیر طبیعي پیښو پیښځپلیو ته د خیرپاله هیوادوالو، سوداګرو، درنو حاجیانو او مماثلو همکارو ملي ټولنو په مرسته په ټول هیواد کې بشرپاله خدمتونه وړاندې کوي.
ملي ټولنه د مرکزي روغتون، ګرځنده او ټاکلو کلینیکونو له لارې د هیواد په لرې پرتو نا امنه سیمو کې د ترټولو اړمنو وګړو لپاره روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.
په پینځو مرستونونو کې سلګونه بې مشره کورنۍ تر ساتنې او روزنې لاندې لري او همدارنګه د نړیوال سره صلیب او فیدراسیون په ملاتړ یې د رضاکارۍ او غړیتوب سیستم ته لا پراختیا ورکړې ده.

### پیښو ته د ځواب ورکوونې په برخه کې د ۲۰۲۰ کال د اپریل میاشتې برخمن شوي:

| ولایتونه | د کسانو شمیر | مرسته شوي توکي | مرستدویه بنسټونه |
|---|---|---|---|
| پنجشیر | ۵۶۹۴ | خوراکي توکي | د سره صلیب نړیواله کمیټه |
| بامیان | ۱۹۸۰ | خوراکي توکي | د سعودی عربستان |
| کاپیسا | ۲۱۰۰ | خوراکي توکي | د سعودی عربستان |
| لوګر | ۲۰۸۰ | خوراکي توکي | د سعودی عربستان |
| غزنی | ۲۲۶۲ | خوراکي توکي | د سعودی عربستان |
| پکتیا | ۷۲۳۱ | خوراکي توکي | د سعودی عربستان |
| کنر | ۳۲۹ | خوراکي توکي | سره میاشت او یونسیف |
| نیمروز | ۳۵۰ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت |
| ټولټال | ۱۷۵۲۶ تنه | | |

### د جسدونو د لیږد پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په اپریل میاشت کې په هیواد کې د بېلابېلو اړخونو ۵۱ جسدونه خپلو کورنیو ته لیږدول شوي او سپارل شوي دي.

### د پلټنې او لارموندنې پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په اپریل میاشت کې، د بندیانو او هغوی د کورنیو ترمنځ ( ۸ ) پیغامونه راټول شوي او (۱۰) پیغامونه ویشل شوي دي.

مدیر مسوول: محب الله شیرزی ګرافیک ډیزاینر: سمسور فخري
د اړیکې شمیره: ۰۷۲۸۹۰۰۰۳۷
ویب پاڼه: www.redcrescent.af
بریښنالیک: dis@redcrescent.af
فیسبوک: Afghan Red Crescent Society
افغانستان، کابل، پنځمه ناحیه، افشارسیلو، د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر

## مرستونونه

د افغاني سرې میاشتې ټولنه په پینځه ګونو مرستونونو (کابل، قندهار، هرات، بلخ او ننګرها) کې ۸۲۵ تنه مشمولین (کونډې، یتمان او رواني ناروغان) تر پالنې او روزنې لاندې لري، چې ۳۲۲ تنه یې رواني ناروغان دي.

## د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول

د افغاني سرې میاشتې ټولنې روغتیایي خدمتونه ددې لپاره د اهمیت وړ دي چې په کلیو او بانډو کې د لیرې پرتو سیمو خلک تر خپل پوښښ لاندې راولي، له دې امله په لیرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، خلکو ته ستر حیاتي ارزښت لري

| | |
|---|---|
| له ۴۰ ثابتو کلینیکونو څخه | ۹۸۰۶۵ کسان: برخمن شوي |
| له ۲۹ ګرځنده کلینیکونو څخه | ۲۶۸۶۵ کسان: برخمن شوي |
| له پلیو پروګرام څخه | ۴۸۷۵ کسان: برخمن شوي |
| له ۲۰ فرعي کلینیکونو څخه | ۳۰۰۳۹ کسان: برخمن شوي |
| له مرکزي روغتون څخه | ۱۱۰۶۹ کسان: برخمن شوي |
| د اپیل پروژې له ۴ سیارو ټیمونو څخه | ۳۵۱۴ کسان: برخمن شوي |
| د یوه جامع روغتیایي مرکز له لارې | ۷۴۸۸ کسان: برخمن شوي |
| د ۲ بیړنیو فرعي کلینیکونو له لارې | ۳۶۵۵ کسان: برخمن شوي |
| د CBHFA روغتیایي عامه پوهاوي، لومړنیو ورغتیایي مرستو او د جګړې له ډګره د جسدونو لیږد پروګرام له لارې | ۱۵۴۴۲۴ کسان: برخمن شوي |
| **ټولټال** | **۳۳۹۹۹۴ تنه** |







